د سولې په اړه د ديني علماوو د ملي مشورتي غونډې پرېکړه ليک

د ۱۳۹۶ کال د جدی ۵ مه نېټه

کابل - افغانستان

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله رب العالمين والعاقبة للمتقين والصلاة والسلام على أشرف المرسلين سيدنا و مولانا محمد و على آله و أصحابه أجمعين و بعد، فقد قال الله تعالى في محكمه كتابه: ﴿ و شاورهم فی الامر فاذا عزمت و فتوكل على الله ان الله يحب المتوكلين ﴾ (سورة آل عمران : ۱۵۹)

پدې کې شک نشته چې په افغانستان کې روانه جګړه پر افغان ولس تپل شوې او داسې ورانوونکې جګړه ده چې دوام يې د هيواد مادي او معنوي بنسټونه له بيخه نړوي. همدې حقيقت ته په پام سره د افغانستان له ټولو ولايتونو نه شاوخوا اووه سوه ديني علماوو، خطباوو، مدرسينو او ديني شخصيتونو د ۱۳۹۶ هـ ش کال د جدي په ۴ او ۵ مې نيټې، په کابل کې د سولې عالي شورا لخوا « د سولې په اړه د ديني علماوو ملي او مشورتي غونډې » ترسرليک لاندې دوه ورځنۍ مبارکه غونډه کې ګډون وکړ. چې متفقاً پکې د روانې جګړې، چې قربانيان يې يواځې د افغانستان مسلمان او ځوريدلی ولس دی، اوګټه يې د اسلام او هيواد دښمنانو ته رسيږي. د همدې لپاره د دوه ورځنيو هر اړخيزو بحثونو وروسته د سولې د ضرورت او جګړې د پای په اړه دا پرېکړه ليک صادر شو.

مونږ علماء متفقاً د افغانستان د اسلامي جمهوريت جمهور رئيس او حکومت هغه سپيڅلي او په ديني او ملي روحيه ولاړ دريځ ځخه چې د اسلام او مسلمانانو د لومړۍ قبلې ((بيت المقدس)) په اړه يې د افغانانو واقعي استازيتوب وکړ او د نړۍ په کچه يې د اسلامي داعيې ځخه ملاتړ ځرګند کړ، مننه کوو او د دې اسلامي او ديني موقف ستاينه کوو.

دا چې سوله يوه الهي وجيبه، نبوي لارښونه او ملي او اساسي اړتيا ده، نو د افغانستان د روان کړکيچ ټولو اړخونو ته د زغم، تحمل او ګذشت سپارښتنه کوو، ترڅو تلپاتې او عادلانه سولې ته د رسيدلو لپاره د اعتماد او باور فضا حاکمه شي.

جګړه ده چې دلته يې د بهرنيو استخباراتي لوبو، د خارجي تروريستانو او د مخدره موادو مافيا موجوديت ته زمينه برابره کړې ده. نو سوله ده چې همدې ټولو ناخوالو او د بهرنيانو حضور ته د پای ټکی کيښودلای شي.

له حکومت څخه غوښتنې:

۱- حکومت باید د افغانستان د خلکو د استازي په توګه د علماو د مشورتي غونډې ټولو وړاندیزونه په کتو د طالبانو سره د زغم، تحمل او حوصله مندۍ څخه کار واخلي.

۲- له حکومته غواړو چې د سولې لپاره دې د باور فضاء رامنځته کړي او د طالبانو خلاف دې داسې لهجه او پالیسۍ نه کار نه اخلي چې جګړه تشدید او د سولې فرصتونه له منځه وړسي.

۳- له حکومت او سولې عالي شورا مو غوښتنه ده چې له ټولو قشرونو سیاسیونو، قومي مشرانو، ښځو، ځوانانو او د هېواد د نظر څښتنانو سره دې د باعزته سولې په تړاو مشورتي ناستو ته دوام ورکړي او د سولې لپاره د ذهنیت سازۍ او ملي اجماع رامنځته کولو لپاره دې کار وکړي.

۴- دا چې فساد د سولې په وړاندې یو له عمده خنډونو څخه دی، نو بناء حکومت دې د اداري او اخلاقي فساد پر ضد مبارزې ته دې دوام ورکړي او په دې لاره کې یې د افغانستان علماء ملاتړ کوي.

۵- د دې لپاره چې افغانستان د ثبات څښتن شي، د هېواد امنیتي ځواکونه چې د افغانستان د ارضي تمامیت، بشپړې خپلواکۍ، زمونږ د عقیدوي او دیني ارزښتونو او ملي نوامیسو څخه د دفاع په لاره کې قربانۍ ورکوي او د ټول ملت محافظین دي، باید د یوې بې پلوې، مسلکي او غیر سیاسي دستګاه حیثیت غوره کړي. داسې ملي اردو او پولیس غواړو چې له قومي، سمتي، ژبني او ګوندي تعصباتو څخه پاک وي.

۶- د جګړې یوه عامل هم په عدلي او قضایي ارګانونو کې فساد او بې عدالتي ده. د همدې لپاره د هېواد اوسني عدلي او قضایي ارګانونو کې د اصلاحاتو لپاره دې پراخ کاروشي او قضایه قوه باید کاملا باوري، پاک نفسه او بې پلوه اوسي. مونږ د اصلاحاتو په لاره کې د حکومت کلک ملاتړ کوو.

۷- مونږ د بیان په ازادۍ باور لرو، مګر له حکومت څخه جدي غوښتنه کوو چې د بیان د زادۍ څخه سوء ګټه اخیستونکې رسنیو په اړه دې اقدامات وکړي او هیڅ ډول داسې تبلیغاتو اجازه دې نه ورکول کېږي چې زمونږ د دیني ارزښتونو سره په ټکر کې، زمونږ د کلتور، ملي وحدت او ملي ګټو خلاف وي.

۸- د جوماتونو، مدرسو، تکیه خانو او نورو دیني برخو کې هغه تشویشونه چې د علماو سره دي په جدي ډول دې ورته رسیدګي وشي او د علماو د بې ځایه اذیت څخه دې ډډه وشي. داسې یوه کمیټه یا شورا دې جوړه شي چې د جوماتونو، مدرسو، تکیه خانو او علماو ستونزو ته رسیدګي وکړي.

۹- ځینې مسئولین او چارواکي په ځینو سیمو کې خپلسري کړنې ترسره کوي چې د عامه خلکو او علماو د اذیت سبب ګرځي. بایه په کلکه پې مخه ونیول شي او حکومت باید د باور فضاء رامنځته کړي.

۱۰- د جګړې تشدیدونکو عناصرو لکه مخدره موادو، معدني موادو او د شرابو د مخنیوي لپاره دې اقدامات وشي.

د طالبانو څخه غوښتنې:

۱۱- د افغانستان د خلکو د سولې ارمان ته په احترام دې طالبان بین الافغاني مذاکراتو ته لبیک ووایي او هر ډول غوښتنې او تقاضاوې چې لري د خبرو په میز دې ملت ته روښانه کړي.

۱۲- په عامه ځایونو کې د جګړې، انتحار او انفجار څخه جدي مخنیوی وکړي، د ملکي خلکو له وژلو دې لاس واخلي او د ټول ګټو تاسیساتو له تخریب څخه دې مخنیوی وکړي. د ټولو هغو سترو ملي پروژو څخه دې په کلکه دفاع وکړي چې د افغانستان بقا او د خلکو سوکالي ور پورې تړلې وي.

۱۳- طالبان دې له خپلو لیکو ټول هغه عناصر وباسي چې له نړیوالو ترهه ګرو ډلو سره اړیکي لري او هیڅ ډول افغاني او اسلامي ارزښتونه نه پېژني او غواړي د جګړې له لارې خپلو شومو موخو ته ورسېږي.

۱۴- د علماو نني غونډې ته په احترام، طالبان دې د علماء داسې یوه ډله د خبرو اترو لپاره را وپېژني چې لرلید، تقوا، وطندوستي او سولې ته ژمنتیا ولري. تر څو دیني علماء د ملي روغې جوړې لپاره اغیزمنه رهبري وکړای شي.

۱۵- د حزب اسلامي سره د سولې کامیاب ترون ته په کتو دې طالبان نور له جګړې لاس واخلي او دلته دې د بهرنیو ځواکونو پاتې کېدو او د سیمه ایزو قدرتونو مداخلې ته زمینه نه برابروي.

سیاسیونو، علماو، مدني ټولنو، قومي مشرانو او ښځو څخه غوښتنې:

۱۶- هر یو دې په خپلو ټول توان سره د افراطیت او جګړې په مخنیوي کې مرسته وکړي او د یوې باعزته سولې لپاره دې هڅې پیل کړي.

۱۷- ملي ګټو ته دې په شخصي، ګوندي، سمتي، ژبنیو او قومي ګټو لومړیتوب ورکړي او د یوه واحد افغانستان لپاره دې کار وکړي.

۱۸- د اداري او اخلاقي فساد سره د مبارزې لپاره دې په ګډه د حکومت او علماو سره لاس یو وکړي.

له نړیوالې ټولنې څخه غوښتنې:

۱۹- د تلپاتې سولې او افغانستان د ثبات لپاره دې ملي امنیتي ځواکونونه تجهیز او حمایه کړي.

۲۰- له ټولو دوستو هېوادونو غواړو چې د افغانستان معضلې په حل کې دې مخلصانه هلې ځلې وکړي. باثباته افغانستان د ټولې نړۍ په ګټه دی.

۲۱- د بین الافغاني مذاکراتو څخه دې پوره ملاتړ وکړي او د سولې لپاره د افغانانو دې ملي ارادې ته پوره احترام وکړي.

۲۲- افغانان اسلامي او عنعنوي اصل ته په کتو ښه ګاونډیتوب ته لومړیتوب ورکوي او له ټولو ګاونډیانو هیله لرو چې د افغانستان په داخلي چارو کې دې له مداخلې ډډه وکړي او د بین الافغاني مذاکراتو څخه دې خپل ملاتړ اعلان کړي.

۲۳- د ګاونډیو هېوادونو له ټولو درنو علماو هیله کوو چې د افغانستان په سوله کې خپل مثبت کردار ادا کړي او د ټولو هغو غیر مسئولانه څرګندونو څخه دې ډډه وکړي چې په افغانستان کې د جګړې او د مسلمانانو ترمنځ د نفاق سبب ګرځي.

۲۴- د اسلامي هېوادونو سازمان دې د افغانستان په سوله کې خپل رول ولوبوي.

له سولې عالي شورا څخه غوښتنې:

۲۵- د سولې عالي شورا له دې ابتکار څخه مننه کوو او غوښتنه مو دا ده چې دغسې مشورتي غونډو ته په ټول هېواد کې دوام ورکړي، ترڅو افغانان د سولې ملي ارمان ته ورسېږي.

۲۶- د سولې په ټراو دې په افغانستان کې د علماو یو ستر نړېوال کنفرانس را وبلل شي.

۲۷- د سولې عالي شورا دې د یوه بې پلوه او غیرسیاسي نهاد رول ادا کړي، ترڅو د سولې لپاره د یوه باوري نهاد په توګه منځګړتوب وکړای شي.

و ما علینا الاالبلاغ